AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري ۲۰۱۸/۱۲/۱۱

# د افغان کشاله او د امریکا د پخواني سفیر سوچونه

**ښاغلی رونالډ نیومن په افغانستان کي له ۲۰۰۵ څخه بیا تر ۲۰۰۷ پوري سفیر وو. د ښاغلي نیومن فقید پلار هم په افغانستان کي یو وخت سفارت کاوه. سفیر نیومن پدې وروستیو کي کابل ته یو سفر کړی دئ، هغه د دې سفر خاطرات او برداشتونه زموږ سره په نشنیل انټریسټ کي د ډسمبر پر ۵ مه داسي شریکوي. باید ووایم چي دا مقاله زیاته اوږده وه، خو ما ښه رالنده کړې ده.**

متن:

که څه هم پارلماني انتخابات تېر سوي دي، خو د نتايجو اعلامول به ئې زيات وخت ونيسي. پارلماني انتخابات له زياتو ستونزو سره مل ول، او د يوه تخمين پر اساس ۴۰ ٪ فيصده رايه ورکونکو برخه پکي اخيستي وه. که څه هم اشرف غني او عبدالله څلور نيم کاله وخت لاره چي د دې انتخاباتو لپاره چمتووالي ونيسي، خو هغوی پدې کار سخت پاتي راغلل، او د انتخاباتو سمبالول واقعا يوه فاجعه وه. حتی په کابل کي هم ګډوډي او بې نظمي وه. ډاکټر عبدالله د خپل نوم د پيدا کولو لپاره نيم ساعت انتظار وايست. د بايومټريک وسايل يا کافي نه ول او يا ئې خلګ په کارولو نه پوهېدل.

له پارلماني انتخاباتو راوروسته، اشرف غني له سياسي لحاظه خورا زيات کمزوری سوی دئ. په هيواد کي حکومت او ښه حکومتوالي تر پخوا ډېر خراب سوي دي. په بل عبارت، د اشرف غني د حکومت بېړی غرقېږي. پخواني يارانو ئې ورته شا کړې ده، او يو په بل پسي له حکومته وځي.

په کابل کي، اکثرو افغان سياستوالو راته وويل چي اشرف غني بايد د دوهم ځل لپاره جمهورريس نه سي. ځکه د غني په دوره کي قومي او فرقوي نفاق لا ژور سوی دئ. يوه افغان هزاره راته وويل،«غني زموږ سره خيانت وکړ.» خو لدې منفي ګرايشاتو سره سره، موږ بايد د اشرف غني سياسي فاتحه وا نه خلو، ځکه موږ واقعا د عامو افغانانو په نبض نه پوهېږو. زموږ ډيپلوماتان په سفارت کي کلا بند دي، او له افغانانو سره تماس نه لري. د اشرف غني اکثره مخالفان مبهم شهرت لري. تر اوسه پوري په مخالفان کي د يوې متحدي جبهې د جوړولو ښکاره علايم نه ليدل کېږي. ښايي ځيني مخالفان د يوه مقام په اخيستلو راضي سي. خو په اوسني کانديدانو کي حنيف اتمر مخکښ کانديد بلل کېږي، اما د مخالفانو تر مينځ لا سخته سيالي روانه ده.

الان مخالفان د يوه ستر سياسي ايتلاف پر جوړولو باندي بحث کوي. که چيري دا ايتلاف واقعا شکل ونيسي، او متحد پاته سي، ښايي اشرف غني په انتخاباتو کي مات کړي. خو افغان تاجکيان غواړي چي خپل کانديد مخته کړي. که چيري دا کار وسي، قومي او سمتي اختلافات به زيات سي. په هغه صورت کي به د غني لاس قوي سي. لنده دا چي هيڅوک بايد پر غني باندي چليپا راکش نه کړي.

بلخوا، زياتره خلګ ډار لري چي ښايي د ۲۰۱۴ د پراخ تقلب کانه بيا تکرار سي. اکثرو افغان سياستوالو په انتخاباتو کي د امريکا د مداخلي سره عادت نيولی دئ. خو ښايي دا ځل امريکا د پخوا په شان عمل و نه کړي، او د هغوی د نجات لپاره هلي ځلي و نه کړي. بل پلو، که چيري ټرمپ غواړي چي له افغانستانه ووځي، په هغه صورت کي به د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

افغان انتخاباتو یوه بله رسوایي ټرمپ ته د دې سیاسي جرات ورکړې چې افغانستان یو دم خوشي کړي، او دا به ووایي چې افغانانو ته نجات ورکول ناممکنه دي.
یوه بله مفکوره دا ده چې د سولې د مذاکراتو لپاره باید انتخابات وځنډول سي، او یو موقتي حکومت جوړ سي. ځکه که چیري انتخابات وسي، بیا به د سیاسي مصالحې لپاره زمینه ډیره تنګه سي. ویل کېږي چې خلیلزاد غواړي چې انتخابات وځنډوي، او موقتي حکومت جوړ کړي. خو الان د خلیلزاد کوښښ دا دئ چې د افغان حکومت د سولې لپاره یو معتبر او جامع هیات وټاکي. دغه راز، خلیلزاد له طالبانو څخه هم غوښتي دي چې یو با اعتباره هیات وټاکي. خو یوه اساسي ښېره دا ده چې باید عجله و نه سي. اکثره خلک وایي چې بل قلابي انتخابات به وضع لا بحراني کړي، او هر څه به په ټپه ودروي. هغوی وایي چې اول باید یو موقتي حکومت جوړ سي، څو د سولې کارونه مختې بوزي، او بیا د بن د کانفرانس غوندي یو بل کانفرانس تشکیل سي، مګر دا ځل به طالبان هم برخه پکې ولري.

خو دا مفکوره هم د مشکلاتو سره مخامخ ده. ځکه هله ایران، روسیه، او پاکستان همکاري کوله، خو اوس حالات بدل سوي دي. الان په افغانانو کې هم زیاتي سیاسي ډلې ایجادي سوي دي. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې په حکومت کې د طالبانو پر شمولیت باندي موافقه تر لاسه کول به ډېر ګران وي. اما دا خبره هم باید په یاد ولرو چې سولې ته د رسېدولو لپاره د افغانانو اراده تر پخوا قوي ده.

مګر تر بل هر شي مهمه موضوع امنیت ده. اوس هم په افغانستان کې القاعده فعاله ده. او داعش په ځینو ځایونو کې حضور لري. که څه هم داعش افغاني رنګ لري، خو خارجي عناصر په ګډیږي، او که چیري امریکا ووځي، د داعش د پراخیدو امکانات لا ډیرېږي.

هر څوک پوهېږي چې امنیت ورځ په ورځ خرابیږي. په کابل کې، هر افغان له بې امنۍ څخه شکایت راته کاوه. طالبان په زیاتو سیمو کې حاکم دي. څه موده مخکې طالبانو د غزني ښار ونیو. په دفاع او داخله وزارتونو کې اصلاحات نه دي راغلي. پولیس فاسد او کمزوري دي. که څه هم افغان عسکر په شهامت جنګیږي، خو د مشرتابه سیاسي بې کفایتي او رشوتخوري ئې موثریت ور کم کړی دئ. په پولیسو او اردو کې خویشخوري او اداري فساد موجود دئ.

په پای کې، په افغانستان کې ساده او اسانه حل نسته. که څه هم په ځینو برخو کې اصلاحات روان دي، خو په عمومي توګه دا اصلاحات لا تر اوسه صرف یوه ارزو ده نه واقعیت. اصلي خبره دا ده چې په افغانستان کې به پرمختګ ډېر سوکه وي. د مسلې همدا اوږدوالی به اکثره خلک دېته وهڅوي چې د ژر راوتلو طرفداري وکړي. مګر اساسي ټکی دا دئ چې له یوې خوا القاعده او داعش په افغانستان کې فعاله دي، او له بلې خوا، خلیلزاد نوي مذاکرات شروع کړي دي. نو لهذا دا به له وخته مخکې وي چې د مبارزې میدان همدااوس خوشي کړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ